مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اڅر ۲۰۲۴/۰۳/۳۱

# د یهودو عادلانه جګړې

(پنځه ویشتمه برخه)




(د معصومو فلسطیني پرښتو وژل، د وینو څښونکو صهیونستي یهودانو په لاس)

**د یهودو پیغمبران او نبیان او د پیغمبرانو وژنې (۱)**

د نړۍ په قومونو کې د یهودو قوم له یوې وړې ټولنې جوړ شوی دی او د یهودیت دین لارویان د ګوتو په شمېر څو ملیونه یهودانو دي خو دغې کوچنې دین ته دومره ډېر پیغمبران او نبیان راغلي دي چې د نړۍ په لویو، لویو دینونو کې په دومره زیات شمېر پیغمبران او نبیان نه دي راغلي.

د یهودو په قوم کې په یو وخت کې ډلې، ډلې په سلګونو انبیا لیدل کېږي، پر نارینه‌وو سربېره، د دوی په منځ کې ښځینه نبیانې هم شتون لري، د اسراییلو د ځانګړي خدای یهوه له انبیاوو پرته، د بتانو په نوم په سوونو انبیا هم موجود وو.

د یهودو د ډېر شمېره نبیانو له امله د رښتینو او درواغجنو نبیانو تر منځ توپیر په ډېر مشکل سره کېږي، هر کس او ناکس ځان نبي بللی او یهودو په نبوت منلی دی: **«که تاسو ته یو آواره او درواغجن کس راشي، د شرابو او شرابڅښلو خوندورۍ خبرې درته وکړي نو هغه پرته له ځنډه په پیغمبرۍ منی.»** (د میکا کتاب:۱۱/۲)

لکه چې وایي (په ډېرو قصابانو کې غوا مرداریږي.) نو د یهودو دین د دوی د ډول، ډول رښتیا او دروغو پیغمبرانو او انبیاوو له امله په یو ناقص، تحریف شوی او بشر ضد په یو داسې دین بدل شوی چې د ځمکې پر مخ سارې نه لري.

د یهودو د دیني سرچینو پر بنسټ د دوی د پیغمبرانو او انبیاوو کړنې د رښتینو پیغمبرانو او انبیاوو په څېر نه دي، د دوی پیغمبران د عادي وګړو په څېر ډول، ډول ګناهونه کوي، که د یهودو د پیغمبرانو ګروهې او کړنې، د اسلام له ستر پیغمبر محمد (ص) له کړنو او ګروهې سره پرتله کړو نو هېڅکله نه شو ویلی چې د یهودو پیغمبران او انبیا به رښتیني پیغمبران یا انبیا وي.

د یهودو د پیغمبرانو لړۍ د ابراهیم (ع) څخه پیل او پر عیسی (ع) باندې (چې یهودو یې پیغمبر نه بولي) پای ته رسیږي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

د اسراييلو کاهنان او انبيا په شرابو کې ډوب دي تر هغې چې د ډېرو شرابو څښلو له امله پر دسترخوانونو کانګې کوي،
اشعيا نبي د خپل عصر ربښتني انبيا او کاهنان داسې راپېژني:«دا دی اورشليم د نشه او مستو کسانو لخوا اداره کيږي،
**تر دې چې انبيا او کاهنان هم نشه او مست دي، دوی شرابو داسې نشه، احمق او ګيج کړي دي چې نه شي کولی د يهوه خدای پيغامونه ترلاسه کړي او هغه خلکو ته ورسوي او ارشاد يې کړي. د دوی دسترخوانونه له کانګو او کثافاتو ډک دي او هېڅ پاک ځای نه ليدل کيږي.»** (د اشعيا کتاب:۲۸/۸-۷)

لکه وړاندې چې يادونه وشوه، په يهودو کې همهاله په سوونو انبيا اوسيدل چې ډېرو يې د درواغو نبوتونه کول، ځينې داسې هم په کې وو چې درواغ ويل د يهوه خدای لخوا پرې تحميليدل، د دا ډول ډلهييزو انبياوو يوې ځلورسوه کسيزې ډلې په اړه د پاچاهانو په لومړي کتاب کې راغلي چې کله د فلسطين په سيمه کې د يهودو دوه جلاجلا پاچاهۍ (يهودا او اسراييل) په نومونو رامنځ ته شوې وې، د يهودا پاچا (يهوشافاط) د اسراييل هېواد پاچا (اخاب) د ليدلو په موخه تللی ؤ، د يهودا پاچا له اخاب څخه غوښتنه وکړه چې د (راموت جلعاد) ښار چې د سوريې په لاس کې ؤ، په نيولو کې مرسته وکړي، هغه وو چې «اخاب پاچا **څلورسوه انبيا راوغوښتل** او د بريد په اړه يې د اسراييلو د خدای يهوه نظر تري وغوښت، **په دې ډله کې سلو تنو انبياوو وړاندوينه وکړه چې بريد وکړه يهوه خدای به بريا درپه برخه کړي.** له دې وروسته د يهودا پاچا وويل: دلته کوم بل نبي نه دی پاتې؟ اخاب وويل يو تن (ميکايا) د يمله زوی شته چې زه له هغه څخه کرکه کوم ځکه چې تل ما ته بدې وړاندوينې کوي... .
ميکايا نبي وويل: د يهوه خدای دغه پيغام هم واوره! ومې‌ليد چې يهوه خدای پر خپل تخت ناست ؤ او پرښتې د هغه پر وړاندې ولاړې وې، يهوه خدای وويل: څوک کولی شي اخاب وغولوي چې پر راموت جلعاد باندې بريد وکړي او په هماغه ځای کې ووژل شي؟
هرې پرښتې خپل، خپل نظر څرګند کړ، په پای کې يو روح راوړاندې شو، يهوه خدای ته يې وويل: زه دا کار کولی شم! يهوه خدای پوښتنه وکړه څه ډول؟ روح وويل: **زه د انبياوو په خوله کې د دروغو خبرې اچوم او اخاب ګمراه کوم.**
**يهوه خدای وويل: ته کولی شې دا کار وکړې، نو ولاړ شه همداسې وکړه.**
بيا ميکايا نبي وويل: **يهوه خدای ګمراه‌کوونکی روح د انبياوو په خوله کې اچولی دی** چې تا ته دروغ ووايي، حقيقت دا دی چې يهوه خدای غواړي تا په مصيبت کې وغورځوي.» (د پاچاهانو لومړی کتاب:۲۲/۶تر۲۳پورې)

په يهودو کې نبوت دومره عادي کار ؤ چې له پاچا نيولي تر يو عادي عسکر پورې هم د لنډې مودې لپاره نبيان کيدلی شول، د دا ډول نبيانو يوه بېلګه داسې ده چې کله د اسراييلو لومړني پاچا شايول غوښتل د ځينو اختلافاتو له امله داؤد ووژني خو «داؤد وتښتيد او سموييل نبي ته يې ځان ورساوه، سموييل نبي او داؤد د (نايوت) سيمې ته ولاړل، شايول پاچا ته خبر ورسيد چې داؤد په (نايوت رامه) سيمه کې دی. نو پاچا د داؤد د نيولو په موخه عسکر ولېږل خو کله چې د شايول پاچا کسان هغه ځای ته ورسيدل ويې ليدل چې يوه ډله انبيا د سموييل په مشرۍ نبوت کوي، **دا مهال د يهوه خدای روح پر هغوی هم کېناست او هغوی نبوت پيل کړ.**
کله چې شايول پاچا واوريدل څه پېښ شوي دي، نور عسکر يې واستول خو هغوی هم نبوت پيل کړ. شايول دريم ځل هم سرتيري ولېږل خو هغوی هم نبوت پيل کړ.
په پای کې په‌خپله شايول رامې (رامه) ته ولاړ نو کله چې د (سيخوه) لوی څا (کوهي) ته ورسيد پوښتنه يې وکړه چې سموييل او داؤد چېرې دي؟ هغه ته يې وويل چې هغوی په نايوت کې دي خو د نايوت د لارې په منځ کې **پر شايول پاچا باندې د يهوه خدای روح کېناست او هغه هم تر نايوت پورې نبوت وکړ. هغه خپلې جامې څيرې کړې او ټوله ورځ تر شپې پورې لوڅ‌لغړ پروت ؤ، د سموييل پر وړاندې يې نبوت کاوه، کله چې خلک خبر شول ويې ويل: آيا شايول هم نبي شوی دی؟**»(د سموييل لومړی کتاب:۱۹/۱۸تر۲۴پورې)

ومو لوستل چې په سراييلو کې د بتانو انبيا هم په ډېر شمېر اوسيدل او د (بعل) او (اشيره) بتانو په نومونو يې نبوتونه کول، هغه مهال چې پر اسراييلو وچکالي راغلي وه نو (ايليا) نبي د اسراييل هېواد پاچا اخاب ته ورغی او هغه ته يې وويل چې دغه بلا پر اسراييلو ستا او ستا د کورنۍ د بت‌پرسيتو له امله راغلي ده«اوس ولاړ شه د اسراييلو قوم وګړې د (کرمل) غره پر سر راټول کړه او **څلورسوه پنځوس تنه د بعل بت انبيا او څلورسوه د اشيره بت انبيا چې (ايزابل) [د اخاب ښځه] تنخواوې ورکوي د کرمل غره ته راوغواړه.**
اخاب ټول بني اسراييل د بعل [بت] له انبياوو سره يو ځای د کرمل غره ته راوغوښتل... ايليا وويل: تر څو پورې غواړې د يهوه خدای عبادت وکړئ او هم د بتانو؟ که چېرې يهوه خدای وي د هغه عبادت وکړئ، که بيا بعل بت خدای وي نو د هغه عبادت وکړئ... .


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په څير و لولئ

ایلیا وویل: د یهوه خدای له نبیانو څخه یوازې زه پاتې یم خو د بعل انبیا څلورسوه پنځوس تنه دي.» (د پاچاهانو لومړی کتاب:۱۸/ ۱۹تر۲۲پورې)
ورپسې ایلیا نبي او د بعل بت نبیانو دوه غواګانې د یهوه خدای او د بعل بت اړونده د سوځولو په قربانځایونو کې ټوټې کړې، ایلیا وویل دواړه لوري به دعا وکړو چې د قربانۍ غوښه د یهوه خدای او بعل بت لخوا وسوځول شي، لنډه دا چې لومړی د بعل بت نبیانو دعاګانې وکړې چې غیبي اور راشي او هغه غوښه وسوځوي خو دا کار ونه شو، بیا د ایلیا په دعا، یهوه خدای له آسمانه اور ولېږه او هغه غوښه یې وسوځوله چې په دې توګه ایلیا نبي ګټونکی شو.
«کله چې اسراییلو پېښه ولیده نو ټول په خاورو کې پرېوتل او نارې یې پورته کړې: یهوه خدای دی، یهوه خدای دی. ایلیا نبي اسراییلو ته وویل چې دا د بعل انبیا ونیسئ او پرېنږدئ یو کس هم وتښتي. هغوی ټول ونیول شول او ایلیا هغوی د (قیشون) سیند غاړې ته بوتلل او هلته یې ووژل.» (هماغه کتاب:۱۸/۳۸تر-۴۰)

د اسراییلو نبي ارمیا د یهودو درواغجن انبیا په سختۍ سره غندي هغه وایي:«دروغویونکو او غولوونکو انبیاوو مې زړه رامات کړی او تن مې په لړزه دی، د یو شرابي په څېر نشه، ګیج او حیران یم ځکه چې وېرونکی برخلیک د دغو انبیاوو په انتظار کې دی. یهوه خدای په خپل سپیڅلي کلام سره د دوی د محکومیت حکم صادر کړی. دا هېواد له زناکارانو ډک دی، **انبیا یې اشرار دي** او خپله ځواکمنتیا په ناروا لارو کاروي، ځکه خو ځمکه د یهوه خدای د لعنت له امله وچه شوي ده.
د دا ډول جعلي انبیاوو په اړه ارمیا نبي د یهوه خدای ځرګندونې داسې بیانوي: کاهنان هم د انبیاوو په څېر له ما لرې شوي دي، تر دې چې زما په کور کې شرارتونه ترسره کوي. پر هغه لار چې درومي تیاره او ښوییدونکې ده... **د سامرې (سامره) انبیا ډېر شرور وو، هغوی به د بعل بت په نوم پېغامونه راوړل** چې په دې کار یې زما قوم، اسراییل په ګناهونو کې ښکېل کړي وو او ما دا ټول لیدل.
**د اورشلیم انبیا له هغو څخه لا ډېر شراچوونکي دي، وېرەوونکي کړني ترسره کوي، زناګانې کوي او ناسمې کړنې خوښوي،** د دې پر ځای چې بدعمله خلک له ګناهونو او بېلارۍ راوګرځوي، هغوی ګناهونو ته هڅوي، دغه خلک د (سدوم) او (عمورې)[1] ښاریانو څخه ډېر فاسد دي.
زه به د اورشلیم انبیاوو ته تریخ خوراک ورکړم او زهر به پرې وخورم، دوی د دې سبب شوي چې خدای ناپېژندنه او ګناهونه په ټول هېواد کې رامنځ ته کړي. له دې امله د دغو دروغویونکو انبیاوو خبرو ته (چې تاسو ته ناوړه هیلې درکوي) غوږ مه نیسئ ځکه چې د دوی خبرې زما لخوا نه دي، بلکې د دوی لخوا جوړې شوې خبرې دي... .
یهوه خدای وایي: ما دغه انبیا نه دي استولي خو ادعا کوي چې زما له لوري خبرې کوي، هېڅ پېغام مې دوی ته نه دی ورکړی خو دوی وایي چې زما خبرې اوروي... زه د دغو انبیاوو له خبرو خبر یم، پوهېږم چې په درواغو وایي چې ما خپل کلام په خوب کې پرې نازل کړی دی. تر څو پورې به دغه دروغویونکي پېغامړونکي زما قوم په خپلو جعلي خبرو غولوي؟ دوی د دغو دروغو خوبونو په ویلو سره کوښښ کوي زما قوم وهڅوي چې ما هېر کړي، لکه څرنګه چې د دوی پلرونو زه هېر کړی وم او په بعل بت پسې تللي وو. پرېږدئ چې دا دروغویونکي انبیا خپل خیالونه او خوبونه بیان کړي او زما ربښتني ویاندان هم زما کلام په امانت سره د خلکو غوږونو ته ورسوي ځکه چې بوس او غنم په اسانۍ سره پېژندل کیدای شي...
**نو زه د دغو انبیاوو پر ضد یم. دوی له یو بل څخه خبر پټوي او هغه زما د کلام په نوم اعلانوي، زه د دغو دروغویونکو پېغامړونکو پر ضد یم چې په خپلو نالیدلو خوبونو او دروغو باندې زما قوم بېلارۍ ته بیایي. ما هېڅکله دا ډول خلک نه لیږلي او نه مې ټاکلي دي.»** (د ارمیا کتاب: ۲۳/۹تر۳۲پورې)

د اسراییلو یو بل نبي حزقیال د یهودو د دروغویونکو انبیاوو په هکله وایي چې یهوه خدای راته وویل:«ای خاورینه انسانه! **زما کلام د درواغجنو انبیاوو پر ضد اعلان کړه، د هغو انبیاوو پر خلاف چې خپل افکار زما د پیغام په نوم بیانوي.**
یهوه خدای وویل:«درېغه پر هغو ناپوهو انبیاوو چې خپل خیالات زما د کلام پر ځای بیانوي، پەداسې حال کې چې زما لخوا هېڅ ډول کلام نه دی پرې نازل شوی.
**ای اسراییلو! ستاسو انبیا په ویجاړیو کې د غولوونکو او تېراستونکو په څېر دی،** هغو تاسو ته هېڅ ګټه نه ده رسولې...
د دوی خوبونه باطل او وړاندوینې یې درواغ دي، وایي چې پېغام یې زما له لوري دی، په داسې حال کې چې ما دوی نه دي استولي خو له دې سره سره په دې هیله دي چې وړاندوینې یې پلې شي. **ای درواغجنو پېغامړونکو! ستاسو**

---

[1]: سدوم او عموره د دغو دوو ښارونو وګړي د خپلو بدو کړنو له امله وران او ویجاړ شوي وو.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

**خوبونه او پېغامونه ټول دروغ دي**، وايي چې هغه زما له لوري دي، حال دا چې ما هېڅکله له تاسو سره خبرې نه دي کړي.
نو يهوه خدای وايي: ستاسو د درواغو او جوړو شويو خوبونو له امله زه ستاسو پر ضد يم او تاسو ته به سزا درکړم او د اسراييلو له منځه به مو ريبني وباسم... .» (د حزقيال کتاب:۱/۱۳تر۹پورې)

حزقيال نبي وايي چې يو ځل بيا يهوه خدای خبرې راسره وکړې ويې ويل:«ای خاورينه انسانه! د اسراييلو قوم ته ووايه چې ستاسو ځمکه ناپاکه ده... کاهنان يې زما احکام او قوانين ماتوي، زما سپېڅلی کور مرداروي، سپېڅلي او ناسپېڅلي ته ژمن نه دي... مشران يې د ليوانو په څېر خپل ښکار ځيرې کوي او د خپلو ګټو په موخه جنايتونه کوي. **انبيا يې په خپل فکر خوبونه تعريفوي او په درواغو وايي چې پېغامونه يې د يهوه خدای له لوري دي. حال دا چې ما يوه کلمه خبرې هم نه دي ورسره کړي**، په دې کار سره خپل ګناهونه پټوي... .» (هماغه: ۲۲/ ۲۳تر۲۸پورې)
زکريا نبي د درواغويونکو انبياوو او بتپرستيو له منځه وړلو په اړه هيلهمند دی چې يهوه خدای به د اسراييلو ځمکه له دوی څخه پاکه کړي، زکريا د يهوه خدای له قوله وايي:«په هغه ورځ به هر ډول بتپرستی د اسراييلو په ټوله ځمکه کې له منځه يوسم، داسې چې هېڅ نښه نښانه به يې پاتې نه شي او د بتانو نوم به هېر شي. **[د اسراييلو] هېواد به له درواغويونکو انبياوو او فالکتونکي څخه پاک کړم خو که بيا هم څوک په درواغو نبوت وکړي، د خپل پلار او مور په لاس به ووژل شي، هغه ته به ووايي: ته بايد ووژل شي، ځکه چې د يهوه خدای په نوم د درواغو نبوت کوې.**
په هغه ورځ به دروغويونکي انبيا له خپلو نبوتونو څخه وشرمېږي، نور به د خلکو د غولولو په موخه د انبياوو جامې نه اغوندي، هر يو به ووايي: زه نبي نه يم، زه يو ښکاروز (کروندګر) يم او له ځوانۍ څخه ښکاروز وم.» (د زکريا کتاب:۲/۱۳تر۵پورې)





نېټه:۱۴۰۳/۱/۱۲ل. ل
**نور بيا**

[د ښاغلي محمد انور اخړ نوري ليکنې په دې لينک کې ولولئ.]


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ